2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د سپټمبر خلورمه | ۴۲۶مه ګڼه

## پر ګرین ویلج خونړی برید؛

## لاریون کوونکي: دغه کمپ دې ژر تر ژره له دې سیمې و ایستل شي


۳

### د استوګنې سیمې، نظامي مرکزونه او خونړي بریدونه

۲ مخ

### کرېکټ بورډ په ځینو ولایتونو کې خیالي لوبغالي پرانیستي او د ډېرو چارې نیمګړې پاتې دي

۲ مخ

## د ټاکنیزو کمېسیونونو لس پخواني کمېشنران په پنځه- پنځه کاله بند محکوم شوي دي

د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز، د ټاکنیزو کمېسیونونو لس پخواني کمېشنران هر یو په پنځه -پنځه کاله بند محکوم کړي دي.

د رسنیو د راپورونو له مخې، د فساد پر وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز پرون په یوه علني محاکمه کې د ټاکنیزو کمېسیونونو پخواني کمېشنران د یوه نوماند صالح محمد صالح د رایو د بدلون او دغه راز له وظیفوي صلاحیتونو د ناوړه ګټه اخیستنې په تور محاکمه کړي دي.

محکمې د ټاکنیزو کمېسیونونو د رییسانو په ګډون، لس کمېشنران په پنځه- پنځه کاله تنفیذي بند محکوم کړي دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون پخوانی رییس عبدالبدیع صیاد او د دغه کمېسیون پخواني کمېشنران هر یو معاذالله دولتي، رفیع الله بیدار، قادر قریشي، سید حفیظ الله هاشمي، ملیحه حسن او وسیمه بادغیس، د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون رییس عبدالعزیز اریایي او کمېشنران یې، هر یو بصیر فایر او حمیرا حقمل د هغو لسو کسانو له ډلې دي، چې په پنځه- پنځه کاله بند محکوم شوي دي.

محکمې د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا پخواني رییس احمدشا زمان زي او د کمېسیون د معلوماتي ټکنالوژۍ رییس سید ابراهیم سادات ته برات ورکړی دی.

د یادونې ده چې د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون پخواني کمېشنران غلام دستګیر هدایت او علي رضا روحاني په دې قضیه کې دخیل نه وو.

<u>ټاکنو کمېسیون:</u>

### د افغانستان ټاکنې د سیمې په پرتله تر ټولو ګران بیه دي




۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### افغان پاچا




(افغان پاچا) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی، د کتاب لیکوال محمدحسین خان او پښتو ژباړه یې میراحمد یاد کړې ده. یاد کتاب د شاه امان الله خان د ژوند، سیاسي لید، له هېواد سره د بې سارې مینې او د هېواد د ابادۍ په اړه جالبې خبرې لري.

### په هلمند کې د کبانو روزنې پنځوس فارمونه جوړېږي



د هلمند د کرنې ریاست له لوري په دغه ولایت کې د کبانو د پنځوسو نوو فارمونو جوړولو په موخه، پر ځینو کب روزونکو سل زره کوچني کبان وېشل شوي.

د اړوندې موضوع په اړه د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو پژواک ته ویلي، چې په دغه ولایت کې دا مهال د کب روزلو ۳۶۰ فارمونه فعالیت کوي.

نوموړي ویلي: «د کبانو روزلو په هلمند کې ښه نتیجه ورکړې، نو ځکه نن(پرون) موږ د پنځوسو نوو فارمونو د جوړېدو په موخه پر کب روزونکو سل زره کوچني کبانووېشل».

د الکو په خبره، هڅې یې روانې کړې څو ډېر ژر هلمند د کبانو پر یوه صادراتي ولایت بدل کړي. سره له دې هم په هلمند کې د کبانو روزونکي وایي چې د کبانو د خرڅلاو لپاره یو ځانګړی ځای نه لري او په دې برخه کې له ستونزو سره مخ دي چې باید اړوند چارواکي یې ورته زمینه برابره کړي.

### <u>مسؤلان امنیتی:</u> نیروهای تازه نفس به ولایت بغلان رسیده اند



مسئولان حکومتی می گویند که به مرکز ولایت بغلان، نیروهای تازه نفس رسیده اند و در آیندۀ نزدیک، علیه طالبان مسلح عملیات راه اندازی خواهند کرد.

این در حالی است که طالبان مسلح، سه روز قبل از سمت شمال شهر، بالای پلخمری حمله کردند و تاکنون ادامه دارد.

از سبب این حملات، ضمن کشته و زخمی شدن ده ها تن، شاهراه کابل- شمال به روی ترافیک بسته شده است.

در خبرنامه‌ای که از سوی ریاست عمومی امنیت ملی، به رسانه ها فرستاده شده، آمده است که نیروهای خاص امنیت ملی، به شهر پلخمری رسیده اند.

منبع افزوده است: «نیروهای تازه نفس در شهر پلخمری، چک پاینت ها ساخته اند و در آیندۀ نزدیک، علیه طالبان مسلح که در خانه های مردم جا گرفته اند، عملیات راه اندازی خواهند کرد».

همچنان جاوید بشارت سخنگوی قوماندانی امنیۀ ولایت بغلان، به آژانس خبری پژواک گفته است که نیروهای تازه نفس از کابل رسیده؛ اما تاکنون در درگیری اشتراک نورزیده اند.

اما صفدر محسنی رئیس شورای ولایت بغلان، به آژانس خبری پژواک گفته است که از سبب ناهماهنگی در خط اول جنگ میان نیروهای امنیتی، طالبان پیشرفت کرده اند.

بر اساس معلومات نامبرده؛ طالبان در شاهراه های پلخمری- مزارشریف و پلخمری- کندز، چک پاینت ها را ایجاد کرده و مردم را تلاشی می کنند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal English Academy

شیګل انګلیش اکاډمي

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د استوګنې سیمې، نظامي مرکزونه او خونړي بریدونه

په کابل کې پر ګرین وېلج د وسله والو طالبانو په برید کې پراخه مرګ ژوبله او ځاني زیانونه اوښتي دي. کورنیو چارو وزارت وایي چې په برید کې ۱۶ افغانان وژل شوي او (۱۱۹) نور ټپیان دي. په وژل شوو کې نږدې ټولې ښځې، ماشومان او بېګناه وګړي دي.
وسله وال طالبان وایي چې په برید کې ډېرو بهرنیانو ته مرګ ژوبله اوښتې، خو چارواکي په دې اړه څه نه وایي. د ګرین وېلج له خپاره شوو تصویرونو هم ښکاري چې بهرنیانو ته به مرګ ژوبله اوښتې وي، خو د دې مرګ ژوبلې د شمېر، څرنګوالي او د وژل شوو او ټپي بهرنیانو د هویت په تړاو معلومات نشته.
برید پراخ مالي زیان هم اړولی او د ګرین وېلج تر څنګ یې د خلکو کورونه، دوکانونه، موټرونه او نور تاسیسات تخریب کړي دي. په تېرو څو کلونو کې دا ځلورم برید دی چې پر ګرین وېلج کېږي. وروستی برید خورا زورور و او نږدې په ټول کابل ښار کې یې غږ اورېدل شوی دی.
څه چې روښانه دي، هغه دا دي چې خلک د دغو بریدونو قربانیان دي او په دې چاره کې طالبان او حکومت دواړه پړه دي.
طالبان ولې د خلکو د استوګنو په سیمو کې داسې بریدونه کوي؟ دوی ښه پوهېږي چې شاوخوا خلک اوسېږي او دا ډول بریدونو تر ټولو ډېر دوی ته زیان اړوي. طالبانو پخوا ویلي چې خلک دې د نظامي مرکزونو له شاوخوا لرې شي. کله چې خلک کورونه ولري او دا کورونه هم ورته له پلار او نیکه پاتې وي، څنګه به دا سیمه پرېږدي او نورو سیمو ته به ولاړ شي!؟ د سیمې دا غریب وګړي به څنګه په نورو سیمو کې د اوسېدو ځای پیدا کړي!؟ له همدې امله د خلکو دا پراخه مرګ ژوبله نه توجیه کېږي او پکار ده چې مخه یې ونیول شي.
له بله اړخه بهرنیان ولې د خلکو د استوګنې په سیمه کې داسې مرکزونه جوړوي؟ حکومت ولې اجازه ورکوي چې داسې مرکزونه جوړ شي؟ دا لومړی ځل نه دی چې په دې سیمه کې خلکو ته داسې مرګ ژوبله اوړي، خو د خلکو له پراخو اعتراضونو او غوښتنو سره سره، نه د دې سیمې امنیت ټینګ شوی چې د بریدونو مخنیوی وشي او نه هم دا مرکز له دې ځایه لېږدول شوی دی.
له همدې امله د خلکو د پراخې مرګ ژوبلې مسوولیت د بهرنیانو او حکومت پر غاړه هم دی. حکومت او بهرنیان طالبان ملامتوي چې په کلیوالو سیمو کې اوسېږي او ملکي وګړي د سپر په توګه کاروي، خو دوی هم همدا کار کوي. د استوګنې په سیمه کې بهرنیان داسې مرکز جوړوي. دا همغسې کار دی چې دوی پرې طالبان ملامتوي. له همدې امله دا له ملکي وګړو سره جفا او خیانت دی او نور باید اجازه ور نه کړل شي.
طالبان او حکومت دواړه باید د ملکي خلکو د استوګنې په سیمه کې له بریدونو ډډه وکړي. دغه راز د بهرنیانو کمپونه او نور نظامي مرکزونه باید له هغو سیمو و ایستل شي، چې هلته ملکي وګړي اوسېږي. له بله اړخه د جګړې ښکېل اړخونه باید نور د کېدونکې سولې د هرکلي په پار جګړه او بریدونه ودروي او خلک له سولې او سیاسي خبرو زړه توري نه کړي.

# کرېکټ بورډ په ځینو ولایتونو کې خیالي لوبغالي پرانیستي او د ډېرو چارې نیمګړې پاتې دي

پژواک خبري اژانس

له تېرو دریو کلونو راهیسې د افغانستان کرېکټ بورډ له خوا په ځینو ولایتونو کې د کرېکټ لوبغالو د بنسټ ډبرې اېښودل شوې، د ځینو بیخي کار نه دی پیل شوی او د ځینو نورو چارې بیا نیمګړې پاتې دي.
د کرېکټ بورډ مسوولینو د دغو لوبغالو د بنسټ ډبرو اېښودو پر مهال ورته ځانګړې شوې بودجه او د یو کال او نیم کال په موده کې یې د چارو بشپړېدو ژمنې هم کړې وې.

**د ننګرهار د بهسودو کرېکټ لوبغالی**

د ننګرهار د بهسودو لوبغالی هم په یادو نیمګړو لوبغالو کې شامل دی، چې د ۲۰۱۷ ز کال د اپرېل په میاشت کې یې د بنسټ ډبره اېښودل شوې ده، خو د کار هېڅ نښې نښانې یې نه لیدل کېږي.
د دغه لوبغالي د بنسټ ډبرې اېښودو په مراسمو کې د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار، د ننګرهار والي ګلاب منګل، د کرېکټ بورډ د هماغه مهال رییس عاطف مشعل او نورو چارواکو برخه اخیستې وه.
د کرېکټ بورډ د وخت رییس عاطف مشعل ویلي وو چې پر دغه لوبغالي دوه نیم میلیونه ډالر لګښت راځي او په نړیوال معیار جوړېږي، خو د دغه لوبغالي د بنسټ ډبرې له اېښودو دا دي دوه نیم کاله تېرېږي، خو تر اوسه هېڅ کار پرې نه دی شوی.
د ختیځ زون کرېکټ بورډ رییس میوند مجاهد پژواک اژانس ته ویلي چې پر ځمکه د حقوقي ستونزو له امله تر اوسه د بهسودو کرېکټ لوبغالي کارونه نه دي پیل شوي.
نوموړي زیاتوي، اوس یې تر ولسمشرۍ ماڼۍ دغه ستونزه رسولې او د ځمکې ستونزه د حل کېدو په حال کې ده، خو د ننګرهار د والي ویاند عطاءالله خوږیانی وایي چې کرېکټ بورډ دغه لوبغالي ته هېڅ بودجه نه درلوده، نو ځکه یې کارونه هم نه دي پیل شوي.
خوږیانی وایي، د جلال اباد له ښاروالۍ او ولایت له مقامه یې مرسته غوښتې ده، خو دا چې کرېکټ بورډ ویلي وو چې د دې برخې لپاره ځانګړې بودجه لري، نو ځکه ورسره همکاري نه ده شوې.
د ننګرهار د کرېکټ اکاډمي مشر هستي ګل عابد وایي، دا چې د غازي امان الله خان جوړ شوی لوبغالی له ښاره لرې دی، نو دوی کرېکټ بورډ ته وړاندیز وکړ چې د بهسودو له پله سره دې بل لوبغالی جوړ شي.
هغه پژواک ته ویلي، د ولایت مقام ځمکه ورکړه او د بهسودو لوبغالي لپاره څه باندې اووه میلیونه ډالره لګښت اټکل شوی و، خو په لومړي پړاو کې درې میلیونه ډالره وو.
خو عابد وایي چې د ځینو ستونزو له امله لومړی کارونه وځنډول شول او بیا وروسته یې بودجه لوګر او پکتیا ته ولېږدول شوه.

**د لغمان کرېکټ لوبغالی**

دغه راز د کرېکټ بورډ اداري له یوه ودانیز شرکت سره د لغمان په مرکز مهترلام ښار کې د یو معیاري لوبغالي د جوړېدو تړون په ۱۳۹۶ لمریز کال کې لاسلیک کړ.
د کرېکټ بورډ د وخت مشر نسیم الله دانش ویلي وو، دغه لوبغالی به په ۳۹ جریبه ځمکه کې د بورډ په مالي امکاناتو په اتو میاشتو کې جوړ شي، خو اوس دا دی درې کاله تېرېږي، خو لا هم دغه لوبغالی د لوبو جوګه نه دی، چارواکي وایي چې چارې یې اویا سلنه بشپړې شوې دي.
د لغمان د کرېکټ اداري مشر جمیل ستانکزي پژواک اژانس ته ویلي چې د دغه لوبغالي په جوړېدو کې ځنډ د پیسو د نشتوالي له امله دی.
هغه ویلي، د لوبغالي جوړېدو لپاره کرېکټ بورډ شاوخوا ۱۳ میلیونه افغانۍ بودجه منظوره کړې وه چې د لوبغالي د چاردېوالۍ، میدان هوارولو او د اوبو پر سیستم باندې مصرفېدې، خو د پاتې چارو لپاره یې مالیې وزارت یو میلیون ډالر بودجه منظور کړې وه، چې ټوله ستونزه همدې رامنځته کړې ده.
دی زیاتوي، مالیې وزارت لومړی دغه پیسې کرېکټ بورډ اداري ته سپارلې وې، خو بیا یې بېرته د ښار جوړولو وزارته انتقال کړې چې له امله یې کارونه وځنډېدل.
د لغمان د والي ویاند اسدالله دولتزی هم ورته څرګندونې لري او وایي، والي خپله له اړوندو ادارو سره د دې ستونزې د حل لپاره هلې ځلې کوي او د لوبغالي پاتې چارې به هم ډېر ژر بشپړې شي.

**د لوګر کرېکټ لوبغالی**

د لوګر په مرکز پل علم ښار کې د ۱۳۹۵ لمریز کال په مرغومي میاشت کې د کرېکټ د یوه عصري او معیاري لوبغالي جوړولو بنسټ کېښودل شو؛ په دغو مراسمو کې د وخت والي محمد حلیم فدایي، د افغانستان کرېکټ بورډ عمومي رییس عاطف مشعل، ځایي چارواکو او نورو برخه اخیستې وه.
مسوولینو ویلي وو چې دغه لوبغالی په ۱۵ جریبه دولتي ځمکه کې جوړېږي او ۴۰۰ زره امریکایي ډالر لګښت پرې راځي، چې د هندوستان هېواد لخوا ورکول کېږي. د کرېکټ بورډ رییس عاطف مشعل ژمنه کړې وه چې دغه لوبغالی به په عصري او معیاري بڼه د یو کال په موده کې جوړ شي، خو اوس د لوګر د کرېکټ بورډ ولایتي مسوول محمد امین احمدزی وایي، چې له تېرو دوو کلونو راهیسې د دغه لوبغالي د جوړېدو چارې ولاړې دي او هېڅ عملي کار یې نه دی پیل شوی.
ده پژواک ته وویل، هغه مهال مسوولینو سمه ارزونه نه وه کړې، وروسته معلومه شوه چې پر لوبغالي څلور سوه نه، بلکې اووه سوه زره امریکایي ډالر لګښت راځي.
احمدزی وایي، عصري او معیاري لوبغالی پر ۱۴ جریبه نه، بلکې پر ۳۰ جریبه ځمکه جوړېدای شي، نو د ښاروالۍ له خوا په ورکړل شوې ځمکه میدان نه شي جوړېدای.
ده زیاته کړه: ((اوس شخړه د سفارت او کرېکټ بورډ ترمنځ ده؛ سفارت اعتراض لري چې تاسو درې سوه زره اضافي ډالره د څه لپاره غواړئ؟ باید د تړون پر مهال مو دا یادونه کړې وای)).
د لوګر د والي ویاند دیدار لونګ هم پژواک ته ومنله چې د کرېکټ د دغه لوبغالي چارې په ټپه ولاړې دي او دا پروژه مالي او تخنیکي ستونزې لري.

**د پکتیکا کرېکټ لوبغالی**

د پکتیکا په مرکز ښرنه کې د ۲۰۱۷ ز کال د فبرورۍ په میاشت د کرېکټ د یوه معیاري لوبغالي بنسټ د کرېکټ بورډ د هغه مهال د رییس عاطف مشعل له خوا کېښودل شو.
د پکتیکا د هغه وخت والي الیاس وحدت وایي، لومړی پر ځمکې لانجه وه، وروسته دا لانجه هواره شوه، خو کارونه یې لومړی د شرکت لخوا له ځنډ سره مخ شول او وروسته د کرېکټ بورډ بې غورۍ یې چارې ټکنۍ کړې.
هغه زیاتوي: ((موږ ته د یو بشپړ مجهز معیاري میدان ویل شوي وو، خو اوس هغسې نه دی، یوازې پویلین او میدان یې جوړ کړی، د نندارچیانو د ناستې ځای هم نه لري)).
د هغه په خبره، وروسته د کرېکټ بورډ بل رییس عزیزالله فضلي راغی، هغه هم ژمنې وکړې، خو بیا یې د ښار جوړونې له وزارت سره لانجه پیدا شوه، دوی په دې برخه کې نیمګرتیا یو پر بل اچوي.
وحدت وایي چې د کرېکټ بورډ پخواني مشر عاطف مشعل ورسره د مجهزې اکاډمۍ ژمنه هم کړې وه، خو تر اوسه یې هېڅ درک نشته.
په پکتیکا کې د کرېکټ اداري استازی وطن ځدران وایي چې د لوبغالي د لومړۍ برخې کارونه بشپړ شوي، خو له تېرو پنځو میاشتو راهیسې یې د دویمې برخې چارې ولاړې دي.
هغه پژواک ته وویل، لومړی برخه یې د ۲۵ میلیونو افغانیو په ارزښت د لوبغالي چاردېوالي، دوه منزله ودانۍ، دروازې، د اوبو سیستم او ځینې نور کارونه تر سره شوي دي.
ده زیاته کړه: ((له کرېکټ بورډ څخه مې وغوښتل چې د دویمې برخې کارونه پیل کړي، خو هغوی وایي چې تر اوسه یې قرداد نه دی کړی او دا برخه وزارت مالیې پورې اړه لري)).

**د پکتیا کرېکټ لوبغالی**

د پکتیا په مرکز ګردېز ښار کې شپږ کاله مخکې د ولایت مقام لخوا ۳۴ جریبه ځمکه د لوبغالي لپاره ځانګړې شوې وه، خو تر اوسه یې یوازې چمن کرل شوی دی.
د کرېکټ بورډ د هغه مهال مشر عاطف مشعل په مشرۍ یوه لوړپوړې پلاوي چې په کې ملي لوبغاړي هم شامل وو، په دغه ولایت کې د کرېکټ له نوي جوړېدونکي لوبغالي لیدنه وکړه.
مشعل د دغه لوبغالي ستونزې منلې وې او ژمنه یې کړې وه چې ډېر ژر به په دې اړه یوه بېړنۍ غونډه جوړه او د ستونزو د هوارې لارې چارې به پیدا کړي.
دغه راز د روان لمریز کال په وري میاشت کې د کرېکټ بورډ بل مشر عزیزالله فضلي هم د لیدنې پر مهال د دغه لوبغالي پر کارونو نیوکه کړې وه.
د پکتیا د کرېکټ لوبغاړي او روزونکي په ګردېز کې د جوړېدونکي لوبغالي د چارو له خراب کیفیته شکایت کوي او وایي چې په شپږو کلونو کې یې ۲۰ سلنه کارونه هم نه دي شوي.
ځینې سرچینې وایي چې په لومړي سر کې د پکتیا کرېکټ لوبغالي لپاره اووه لکه او پنځوس زره (۷۵۰۰۰۰) امریکایي ډالر منظور شوي وو، خو قرارداد یې په دوه لکه او پنځه دېرش زره (۲۳۵۰۰۰) ډالر شوی او د پاتې پیسو درک نشته او ورکې شوې دي.
د پکتیا د کرېکټ بورډ ولایتي مسوول وکیل منګل د کرېکټ د لوبغالي په چارو کې ستونزې او فساد مني او وایي چې دا مسایل یې پر وخت له مرکزي اداري سره شریک کړي دي.
منګل پژواک ته وویل، ده ته هم لوبغالي ته د ننوتو او کارونو څارلو اجازه نه ده ورکول شوې او د یو میلیون ډالرو په نوي قرارداد کې هم احتمالي فساد ته اندېښمن دی.
د پکتیا ولایت مقام هم نیوکه کوي چې د کرېکټ بورډ د مخکنیو دوو عمومي رییسانو لخوا ورسره د کرېکټ د معیاري چمن کرلو، د نندارچیانو کېناستو د ځای، پویلین جوړولو ژمنې شوې، خو عملي کارونه یې نه دي کړي.
د والي ویاند عبدالله حسرت پژواک ته وویل، کرېکټ بورډ په دغه ولایت کې د یوې معیاري سرپټې یا اینډور اکاډمۍ جوړولو ژمنه هم کړې، خو تر اوسه یې په اړه هېڅ اقدام نه دی کړی.

**د خوست کرېکټ لوبغالی**

د کرېکټ بورډ پخواني رییس عاطفل مشعل په خوست کې د نوي جوړ شوي لوبغالي پرانیستلو په مراسمو کې ژمنه کړې وه، چې دغه لوبغالی به نور هم پراخ کړي، خو اوس خلک شکایت کوي چې د دریو کلونو په تېرېدو سره یې لا هم د پراخو چارې نه دي بشپړې شوې، خو د خوست د کرېکټ ولایتي مسوول سید عالم بیا پژواک اژانس ته وویل چې د دغه لوبغالي د پراخېدو چارې اتیا سلنه بشپړې شوې دي.
د هغه په خبره، پر دې پروژه ۲۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي چې پاتې شل سلنه کارونه به یې په نږدې راتلونکي کې بشپړ شي.
سید عالم وایي، د کرېکټ موجوده لوبغالی د ۷ زرو نندارچیانو د ناستې ځای لري، خو د یادې پروژې په بشپړېدو سره به د ۱۳ زرو نندارچیانو ځایولو وړتیا ولري.

**د کندوز کرېکټ لوبغالی**

په کندوز کې د کرېکټ د نوي لوبغاړي جوړولو تړون په ۱۳۹۵ لمریز کال کې لاسلیک شوی، چې له مخې یې دغه لوبغالی پر ۱۶ جریبه ځمکه او د ۱۶ میلیونو افغانیو په لګښت د اتو میاشتو په موده کې جوړېږي، خو اوس ځایي مسوولین وایي چې د دریو کلونو په تېرېدو سره لا هم د دغه لوبغالي چارې نه دي بشپړې شوې او ستونزې را پیدا شوې دي.
په شمال کې د کرېکټ اداري مسوول ډاکتر نورعلم فرید پژواک اژانس ته وویل چې لس کاله مخکې د سپین زر شرکت ۲۰ جریبه ځمکه د کرېکټ اداري لپاره ځانګړې شوه او د ځینو موسسو په مالي مرسته یې د جوړولو چارې پیل شوې چې یوه برخه چارې یې تر سره شوې، خو دېوال او ځینې نورې برخې یې لا هم نیمګړې پاتې دي.
ډاکتر فرید وایي، یو نیم کال مخکې کرېکټ اداري د کندوز لوبغالي لپاره بودجه منظور کړه، خو بیا یې دا بودجه بل ولایت ته انتقال کړه او له کندوز سره یې ظلم وکړ.
هغه زیاته کړه: ((کله چې ما د خپل حق غوښتنه وکړه، نو د هغه مهال رییس عاطف مشعل له دندې لرې کړم)).
فرید وایي چې په ۲۰۱۷ ز کال کې پخواني رییس عاطف مشعل په کندوز کې د کرېکټ ملي او اینډور اکاډمۍ، د ننداره کوونکو لپاره د بل پویلین د بنسټ ډبره کېښوده، خو تر اوسه یې هېڅ کار نه دی شوی.

**د بلخ کرېکټ لوبغالی**

د بلخ د کرېکټ بورډ مشر حاجي فریدون وایي چې په دغه ولایت کې د ولایتي اداري په همکارۍ، له هندوستانه د یوه لوبغالي جوړولو تړون لاسلیک شوی، خو له دغه تړون دوه کاله وروسته هم د لوبغالي د جوړېدو چارې نه دي پیل شوې.
هغه په دې برخه کې د کرېکټ بورډ مسوولین پر بې پروایي تورن کړل.
حاجي فریدون پژواک ته وویل چې د افغانستان کرېکټ بورډ له تېرو دریو څلورو کلونو راهیسې د شمال زون، په ځانګړي ډول د بلخ کرېکټ ته سمه پاملرنه نه کوي.
په بلخ کې د امو کرېکټ زون اداري مسوول حاجي ننګیالی وایي: ((له بده مرغه موږ تر اوسه په بلخ کې یو سم میدان نه لرو، درې کاله کېږي چې هند په مزارشریف کې د میدان جوړولو ویلي، په دې برخه کې رسمي تړون هم شوی، خو دومره څوک نشته چې دغه کار تعقیب کړي او میدان جوړ کړي)).
په ورته مهال د بلخ د کرېکټ په ولایتي کمېټه کې یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته وویل، چې د بلخ د کرېکټ لوبغالي قرارداد دوه کاله مخکې د خانه سبز ودانیز شرکت ته ورکړل شوی و، خو څو میاشتې مخکې د افغانستان کرېکټ بورډ لخوا بېرته لغوه شو.
سرچینه زیاتوي چې یاد تړون بیا ځلې د هوشنګ په نوم یوه شرکت ته ورکړل شو، چې د یاد شرکت مشر د کرېکټ بورډ د وخت د رییس فضلي د خپلوانو له ډلې دی.

**د پروان کرېکټ لوبغالی**

په پروان ولایت کې د کرېکټ بورډ د مرکزي زون دفتر له خوا تېر کال (۱۳۹۷) د چاریکارو ښار په ګل غونډۍ ښکلې سیمه کې د لوبغالي د بنسټ ډبره کېښودل شوه، خو مسوولین وایي چې لا یې هم چارې پیل شوې نه دي.
د کرېکټ د مرکزي بندر امیر زون مسوول میر مبارز وایي چې دغه لوبغالی پر ۲۰ جریبه ځمکه جوړېږي، خو تر اوسه یې د ځمکې هوارولو چارې هم نه دي پیل شوې.
هغه پژواک ته وویل: ((والي د ۲۰ جریبه ځمکې د ورکړې ژمنه کړې وه، خو د کرېکټ بورډ مرکزي اداره بې غوري کوي، څو ځلې مې د وخت عمومي رییس ته وویل چې یو پلاوی ور ولېږي، څو د لوبغالي کارونه پیل شي، خو هغه یې کیسه کې نه شو)).
د نوموړي په خبره، د دغه لوبغالي ۲۰ سلنه چارې د ولایت او ۸۰ یې ...

۳مخ

## کرېکټ بورډ په ځينو...

د کرېکټ بورډ اړوند دي، خو دوی هېڅ ونه کړل، بالاخره ده خپله انجنیران بوتلل چې ځمکه مشخصه او چارې يې پيل کړي.
مبارز وايي، پخواني عمومي مشر عزيزالله فضلي سينه ډبولې وه چې د دغه لوبغالي لپاره بودجه او وسايل لري، خو وروسته بيا هېڅ اقدام ونه شو.

**د هلمند کرېکټ لوبغالی**

د هلمند په مرکز لښکرگاه کې د ۱۳۹٦ لمريز کال په لیندۍ مياشت کې د کرېکټ بورډ د هغه مهال رييس عاطف مشعل لخوا د کرېکټ د يوه معياري لوبغاړي جوړولو بنسټ کېښودل شو.
مشعل هغه مهال اعلان وکړ چې دغه لوبغاړی به د ٦٥٠ زرو امريکايي ډالرو په لگښت د يو کال په موده کې جوړ شي او دغه راز ترڅنگ به يې يوه اکاډمي هم جوړه شي، خو اوس د دغه ولايت ځوانان او لوبغالي شکايت کوي چې د ژمنې له مخې بايد دغه لوبغالی د يوه کال په موده کې جوړ شوی وای، خو اوس دربيم کال روان دی، خو تر اوسه يې ۵۰ سلنه چارې هم نه دي تر سره شوې.
خو د هلمند د کرېکټ ولايتي مسوول جانان فولادوال پژواک ته وويل چې د لوبغالي ۹۰ سلنه کارونه پای ته رسېدلي او ډېر ژر به يې پاتې کارونه هم بشپړ شي.
د هلمند د والي وياند عمر ځواک پژواک خبري اژانس ته وويل چې د لوبغالي جوړولو پر چارو د ولايت مقام لخوا پر وخت څارنه کېږي او تر ډېره يې چارې بشپړې شوې دي.

**د زابل کرېکټ لوبغالی**

د زابل د مرکز کلات ښار په شمال کې د مجيد زابلي په نوي جوړېدونکي ښارگوټي کې د کرېکټ د معياري لوبغالي جوړېدو چارې شاوخوا دوه کال وړاندې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د ۳٤ ميليونو افغانيو په لگښت پيل شوې وې.
د دغه ولايت د کرېکټ بورډ امر محبوب محبت پژواک اژانس ته وويل چې د کار له پيلېدو څه موده وروسته يې چارې ځکه وځنډېدې چې دغه ځمکه په ماسټر پلان کې شنه ساحه وه او بايد لوبغالی پرې جوړ نه شي.
د محبت په خبره، تر دوو کلنو لانجو او شخړو وروسته يې اوس کارونه بېرته پيل شوي او ۷۰ سلنه چارې يې پر مخ تللې دي.

**د کرېکټ بورډ مخکينی عمومي رييس**

د افغانستان کرېکټ بورډ پخوانی عمومي رييس نسيم الله دانش وايي، د ده د رياست پر مهال چې د څومره ميدانونو د بنسټ ډبرې ايښودل شوې دي، ډبرې يې جوړ شوي او د ځينو يې لا هم د جوړېدو چارې رواني دي.
هغه پژواک اژانس ته وويل: ((ما هېڅ کار هوايي او نمايشي نه دی کړی، د هر ميدان د بنسټ ډبره مې چې ايښې، بودجه مې ورته لرله)).
نوموړی وايي، د کندهار او خوست لوبغالو د بنسټ ډبرې ده کېښودې او د جوړولو چارې يې هم بشپړې شوې دي.
دانش زياتوي، کله چې ده دنده پرېښوده، نو د پکتيا او خوست لوبغالو د پراخولو ځينې کارونه پاتې وو، خو له بده مرغه نورو مسوولينو دغه کارونه بشپړ نه کړل.
د لغمان د لوبغالي په اړه چې ده يې د بنسټ ډبره ايښې وه، وايي: ((موږ يې کارونه پيل کړل، خو چې زه ولاړم، کارونه يې ودرېدل، لامل يې نه دی راته معلوم چې ولې)).
د کرېکټ بورډ ياد پخواني عمومي رييس وايي چې ځينو نورو چارواکو نمايشي کارونه کړي، يوازې د بنسټ ډبرې يې ايښې دي او نور د کار درک يې نه دی معلوم.
د دانش په خبره، ډېر د خواشينۍ ځای دی، يو مدير چې يو کار پيلوي، بايد ورته بودجه ولري، قرارداد ولري، دا د اداري د اصولو خلاف کار دی چې کارونه نيمگړي پاتې کېږي.
هغه زياته کړه: ((زما په رياست کې د خوست، کابل، ننگرهار او کندهار لپاره لوی لوی ميدانونه جوړ شول، خو له ما وروسته له ۲۰۱۷ ز کال راهيسې يو ميدان يا يوه اکاډمي هم نه دی جوړ شوی)).

**د کرېکټ بورډ غبرگون:**

د افغانستان د کرېکټ بورډ وياند فريد هوتک د هر ولايت د کرېکټ لوبغاړو په اړه له پژواک سره لنډ معلومات شريک کړل.
هغه د پکتيکا لوبغالي په اړه وويل چې ۹۸ سلنه چارې يې بشپړې شوې او ډېر ژر به پرانيستل شي، په دغه ترون کې دوه پوړيزه ودانۍ، دېوال، د اوبو سيستم او نور شامل وو.
هوتک وويل چې د خوست لوبغالي د پراختيا پروژې ترون د فيض مجددي له شرکت سره لاسليک شو او ۸۰ سلنه چارې يې تر سره شوې دي.
د کرېکټ بورډ وياند د پکتيا لوبغالي په اړه وايي چې د دغه لوبغالي کارونه له قرارداد سره سم بشپړ شوي دي.
هغه زياتوي چې د لوبغالي د دويم پړاو ترون له هېواد شرکت سره لاسليک شوی او ډېری کارونه يې بشپړ شوي دي.
هوتک د لوگر کرېکټ لوبغالي په اړه وويل چې د ميدان هوارولو ۸۰ سلنه چارې تر سره شوې او ډېر ژر به يې پاتې کارونه هم بشپړ شي.
نوموړي د لغمان کرېکټ لوبغالي په اړه وويل چې د ځينو تخنيکي ستونزو له امله يې کارونه ځنډېدلي وو، خو اوس ورته بودجه ځانگړې شوې او ډېر ژر به يې کارونه بېرته پيل شي.
د کرېکټ بورډ وياند د ننگرهار د بهسودو کرېکټ لوبغالي په اړه وايي، د دغه لوبغالي په ځمکه کې څه ستونزې وې او چارې به يې بېرته ډېر ژر پيل شي.
هغه وويل چې د بهسودو لوبغالي په څنډو کې د جالۍ نصبولو چارې بشپړې شوې دي او د اوبو د ويالو کارونه هم يوه موسسه پر مخ وړي.
نوموړي د کندوز لوبغالي په اړه وويل چې د اړوند شرکت لخوا يې ټول کارونه په ښه توگه تر سره شوي دي.
هوتک د هلمند، زابل او ميدان وردگو کرېکټ لوبغالو په اړه وويل چې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت لخوا يې کارونه پر مخ وړل کېږي او ۹۰ سلنه چارې يې تر سره شوې دي.
ده زياته کړه چې د بلخ په کرېکټ لوبغالي کې ځينې ستونزې وې، خو وايي چې ډېر ژر به يې چارې د هند په مرسته د اقتصاد وزارت له لوري پيل شي.
د کرېکټ بورډ وياند له اړوندو دولتي ادارو چې د کرېکټ ميدانونو جوړولو چارې پر غاړه لري، خپل کارونه پر وخت تر سره کړي.
پژواک هڅه وکړه چې په دې اړه د کرېکټ بورډ د پخواني عمومي رييس عاطف مشعل نظر واخلي، خو هغه په دې اړه د پژواک مسيج ځواب نه کړ.
مشتاق رحيم چې د افغانستان کرېکټ له نږدې څاري وايي، د افغانستان په اکثرو ادارو کې د حساب، کتاب، مکافات او مجازات اصل مطرح نه دی، له همدې امله چارواکي د مسووليت له احساس پرته نمايشي کارونه کوي.
هغه پژواک اژانس ته وويل، په تېرو پنځو کلونو کې د افغانستان کرېکټ بورډ اداري څلور پنځه مشران بدل شول، خو دا پوښتنه چا ونه کړه چې ولې بدل شول، په کومو دليلونو او نه هم له دوی سره چا حساب کتاب وکړ.
ده زياته کړه: ((د ادارو مشران پر دې پوهېږي چې مجازات، مکافات، حساب او کتاب نشته، څارنه او ارزونه نه کېږي؛ ځکه خو خپلې چارې نمايشي تر سره کوي)).
د مشتاق رحيم په خبره، که چېرې حساب کتاب وای، نو کارونه به يې سم کړي وای او ولس ته به يې دروغ نه ويل.
نوموړي د کرېکټ ميدانونو په اړه وويل، د کرېکټ بورډ اداره له دې مخکې چې د يوه لوبغالي د بنسټ ډبره ږدي، بايد له مخکې ورته بودجه کره کړي، د ځمکې حقوقي ستونزې يې هوارې کړي او بيا يې دې پرانيزي.

## پر گرين وېلج خونړی برید؛

## لاريون کوونکي: دغه کمپ دې ژر تر ژره له دې سيمې و ايستل شي



په کابل کې د ورمې شپې بريد درنه مرگ ژوبله واړوله، خو تر څنگ يې د سيمې خلکو ته هم ميليونونه افغانۍ مالي زيانونه اوښتي دي. د کابل د نهمې امنيتي حوزې اړوند د قابل بای سيمې اوسېدونکي چې د بريد هدف (گرين وېلج) ته نږدې وو، بل ځای ته د دغه کمپ لېږدول کېدو غوښتونکي دي.
ورمه شپه په کابل کې د نهمې حوزې په مربوطاتو کې د گرين وېلج په نامه د بهرنيانو پر يوه کمپ ځانمرگی بريد وشو. بريد خورا درونو او غږ يې د کابل تر لرو پرتو سيمو واورېدل شو. تر بريد وروسته په سيمه کې د امنيتي ځواکونو او پنځو وسله والو ځانمرگو ترمنځ نښته پيل شوه، چې د وسله والو په وژل کېدو پای ته ورسېده. د کورنيو چارو وزارت وايي چې په پېښه کې ۱٦ کسه وژل شوي او ۱۱۹ نور ټپيان دي.
يوازې دا نه، د دې ترڅنگ د دې سيمې خلکو ته درانه مالي زيانونه هم اوښتي دي.
تېره ورځ د گرين وېلج کمپ سيمې ته نږدې د قابل بای د سيمې اوسېدونکو د دغه پېښې په غبرگون کې لاريون کړی و او د دې غوښتونکي وو چې دغه کمپ بايد له دې سيمې و ايستل شي. د قابل بای سيمې اوسېدونکو د يوه لاريون په ترځ کې د ملکي خلکو له کورونو د دغه ډول کورنيو او بهرنيو تاسيساتو، چې د وسله والو په نظامي اهدافو کې شامل دي، د انتقالولو غوښتنه وکړه، خو لاريون د پوليسو او لاريونوالو ترمنځ پر تاوتريخوالي واوښت. د سيمې خلک وايي، دا څووم ځل دی چې دغه کمپ تر بريد لاندې راځي، خو له ملکي سيمو يې د انتقال لپاره هېڅ اقدام نه کېږي.
د سيمې يوه اوسېدونکي رحيم الله مسير ورځپاڼې ته وويل، که حکومت وغواړي بهرنيان په هر ځای کې امن ساتلی شي، نو ځکه پکار ده چې دوی له دغې ملکي سيمې وباسي. د ده په خبره، په سيمه کې د بهرنيانو د کمپ د موجوديت له امله هر ځل په وسله والو بريدونو کې ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوړي. نوموړی وايي: ((موږ هر ځل په بريد کې زيانمنېږو. حکومت دا بهرنيان هر ځای ساتلی شي، بل ځای ته يې دې بوځي، که حکومت مو خبره و نه منې، لاريون ته ادامه ورکوو)).
لاريون کوونکو پر پرونۍ پېښه خورا توند غبرگون وښود او ډېر يې د بهرنيانو دغه کمپ ته دننه شول. ويل کېږي چې دوی په سيمه کې ځينو څېزونو ته اور ورته کړی دی او وروسته پوليسو د لاريون کوونکو د لرې کولو لپاره هوايي ډزې هم کړې دي. د پوليسو او لاريون کوونکو ترمنځ اخ ډب کې ځينو ملکيانو ته مرگ ژوبله هم اوښتې ده.
بلخوا په روغتونونو کې د پېښې ټپيان او عيني شاهدان وايي چې دغه چاودنه خورا زوروره وه او پر حکومت نيوکه کوي چې د خلکو د امنيت په تامين او دغه راز د ورته خونړيو چاودنو په مخنيوي کې پاتې راغلی دی. د کورنيو چارو وزارت وايي، دوی د پېښې پلټنه پيل کړې ده او ډېر ژر به ښکېل خلک د قانون منگولو ته وسپارل شي. د دغه وزارت وياند نصرت رحيمي وايي، بريد وسله والو طالبانو تر سره کړی دی، خو زيانمن شوي ټول ملکيان دي، يوازې په وژل شوو کې درې امنيتي کسان شامل دي.
د دغې چاودنې د شدت له امله د پېښې سيمې ته نږدې د عامو خلکو ډېر کورونه، دوکانونه او نور تاسيسات په بشپړه توگه تخريب شوي دي. په دغه بريد کې د تيلو يوه سټېشن اور اخيستی او د شاوخوا ۴۰ موټرو د ويجاړېدو ترڅنگ يې خلکو ته درانه مالي زيانونه اړولي دي.
د پوځي چارو شنونکي وايي چې په ملکي سيمو کې د کورنيو او بهرنيانو دا ډول کمپونه، چې احتمالاً د وسله والو تر نظامي اهدافو لاندې راځي، بايد نورو سيمو ته انتقال شي. د پوځي چارو شنونکی ظاهر عظيمي وايي، دا پېښې ښايي بيا تکرار شي او ملکي وگړي زيانمن کړي، نو ښه به وي چې حکومت دغه ډول بهرني کمپونه د عامو وگړو د استوگنې له سيمې وباسي.
په کابل کې داسې مهال خونړۍ چاودنه کېږي چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړی استازی په کابل کې دی او وايي، له طالبانو سره هوکړې ته رسېدلي او د ټرمپ تر تاييد وروسته به يې عملي کېدل پيل شي. د هغه په خبره، د دې هوکړې د عملي کېدو له پيل سره سم به د تاوتريخوالي کچه هم راټيته شي.

## په کاليفورنيا کې په يوه بېړۍ کې د اورلگېدنې له امله ۲۵ کسان وژل شوي دي

راپورونه وايي، د امريکا د کاليفورنيا په ساحلي اوبو کې په يوه بېړۍ کې له اور لگېدو وروسته ۲۵ مړي موندل شوي دي.
امريکايي رسنيو د دغه هېواد د ساحلي گارد له قوله ويلي، په دې پېښه کې ۲۵ کسان وژل شوي، نهه نادرکه دي او د بېړۍ پنځه کارکوونکي ژوندي ژغورل شوي دي.
د راپورونو له مخې، په دې بېړۍ کې اور هغه وخت پيل شو چې د سانتا کروز ټاپو په ۱۴۵ کيلومترۍ کې درېدلې وه.
امريکايي رسنيو ويلي، دا چې دا ډوبه شوې بېړۍ يوه سوداگريزه وه، خو د اور لگېدنې لامل يې تر دې مهاله نه دی معلوم شوی.
د امريکا د ساحلي گارد يوه لوړپوړي چارواکي شريف ببل براون په يوه خبري غونډه کې ويلي، کله چې په بېړۍ کې اور ولگېد، ۳۹ کسان پکې سپاره وو.
نوموړي ويلي: «ساحلي گارد د دوشنبې په ۱۰ نيمو بجو د مرستو يو غږ اورېدلی چې ويلي يې دي، دغه کښتۍ د اور په لمبو کې ډوبه شوې. هغه مهال راپورونه دا وو چې ځينې سپرلۍ ښايي هلته لاندې شوې وي».
نوموړي دغه راز زياته کړې، هغه کسان چې ژغورل شوي، د بېړۍ په کابين کې ويده وو چې په چټکۍ يې ځانونه د ژغورنې تر ډلو پورې رسولي وو.
بلخوا د دغه هېواد ژغورونکو ډلو ويلي چې دغو کسانو يادې سيمې ته د دوی له رسېدو مخکې ځانونه اوبو ته اچولي وو او د ژغورونکو ډلو په رسېدو سره له مرگ څخه ساتل شوي دي.
په ورته وخت کې اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس او سي بي اېس نيوز د ساحلي گارد د چارواکو په حواله ويلي، چې په دې پېښه کې ۲۵ تنه وژل شوي دي. بلخوا له مرستندويه او ژغورونکو ډلو څخه يوه کس نيويارک ټايمز ته ويلي چې کله موږ راغلو، بېړۍ په لمبو کې ورکه وه. هغه زياته کړې: «ما وليدل چې د کښتۍ د کړکيو له څنگه اورونه راوتل، هرې څو شېبې وروسته په کښتۍ کې چاودنې کېدې دا يو داسې وحشتناک حالت و، چې سړی ځان ورته نه شي چمتو کولی».

## د کتــاب خبــرې


# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### درېیم څپرکی
### د طالبانو قدرت




یوه لسیزه وروسته، په پېښور کې زېږېدلې القاعده چې اوس یې مشـرانو، هر یو اسامه بن لادن او ایمن الظواهري د دې ارگان موخې د یوه سازمان په توگه په ۱۹۹۸ز کال له خوست ولایت څخه اعلان کړې، په دې اړه وویل:

((ټولو مسلمانانو ته د الله ج له حکم سره سم، دا فتوا وړاندې کوو چې امریکایان او د هغوی ملگري، که نظامیان وي او که ملکیان ووژنئ، هر مسلمان ته چې کولای شي، په هر هېواد کې دا دنده اجراء کړي. څو په دې کار سره الاقصی مسجد او مکه مکرمه د کفارو له منگولو خلاصه کړو او د هغوی پوځونه داسې ځپل شوي او مات شوي له اسلامي هېوادونو ووځي چې بیا هېڅ مسلمان ته گواښ پېښ نه کړي. موږ د الله ج په مرسته، پر هر هغه مسلمان غږ کوو چې پر الله ج ایمان لري او د الله ج احکام پلي کېدل غواړي، امریکایان دې ووژني او هر ځای چې د هغوی پیسې او مالونه په لاس ورشي د غنیمت په توگه دې ترې واخلي. موږ پر مسلمانو علماوو، مشـرانو، ځوانانو او سرتېرو غږ کوو چې پر امریکایي ځواکونو او د هغوی پر ملگرو بریدونه وکړي او هغو ته سبق ورکړي چې تر شا یې ولاړ دي.))

که څه هم القاعده په افغانستان کې وه، خو طالبانو یې پر ستراتیژیکو او تاکتیکي مسائلو کنټرول نه لاره. د ۱۹۹۸ز کال په سپټمبر میاشت کې طالب مشـرانو د سعودي د استخباراتو له مشر، شهزاده ترکي الفیصل سره مجلس کې، هغوی ته د اسامه بن لادن د تسلیمېدو غوښتنه رد کړه. د یوه پاکستاني ډیپلومات له قوله چې په هماغه مجلس کې حاضر و او دواړو لوریو پر یو بل په تورونو لگولو سره مجلس پای ته ورساوه. ډېر ژر ریاض خپل سفیر له افغانستان څخه ستون کړ، خو د طالبانو په رسمیت پېژندنه یې رد نه کړ.

وروسته کلونو کې امریکا د پاکستان پر پوځ، په ځانگړې توگه پر ISI او ملکي اداري فشارونه زیات کړل چې د القاعدې فعالیتونه باید کم کړي، خو هغوی یې خبرو ته په کمه اندازه غوږ کېښود. که څه هم واشنگټن طالبانو ته په غوسه و، خو هغوی یې په عامه د دښمن په توگه اعلان نه کړل. ځینې راپورونه داسې دي چې د ۲۰۰۰ز کال په پیل کې ملا محمدعمر غوښتل، اسامه بن لادن د یوې ستونزې په خاطر له هېواده وشړي، خو معلومه نشوه چې ستونزه څه وه.

د طالبانو او القاعده مشـرانو جامې یو شان نه وې. په سویل کې افغان ملایان چې په سیمه ییزه کچه را لوی شوي وو، له عرب، عصري، بډایه او په سېکولر ښوونځیو کې روزل شوو سره یې جوړه نه وه. کندهار کې طالب مشـرانو له القاعدې مشـرانو هغه هم یوازې پېښوریانو سره ډېرې کمې اړیکې لرلې. ډېرو عربو د مجاهدینو له مشـرانو سره له پخوا اوږدې اړیکې لرلې، د دې مجاهدینو له ډلې یې ډېری اوس د طالبانو دښمنان شوي وو. که څه هم طالبان پر ټول افغانستان د واکمن کېدو په فکر وو، خو د عربو اندېښنه د افغانستان په اړه نه وه، بلکې په خپلو هېوادونو کې یې انقلاب غوښت. طالبانو د اسلام د دین د حنفي مذهب پلوي کوله چې له دېوبنده الهام اخلي. د القاعدې ډېری مشـران د تکفیري سلفېزم پلویان وو.

طالبانو له افغانستان څخه بهر د جهاد لپاره اخلاقي او هم ښایي مادي ملاتړ ورکاوه. هغوی په ۲۰۰۰ز کال د روسي چیچنیا جمهوریت چې تازه د بېلتون پالو مسلمانانو له لوري جلا شوی و، په رسمیت وپېژنده. تحریک له ISI سره د اړیکو لپاره، په کشمیر کې له هند سره د جنگېدونکو ډلو هرکلی وکړ. دې جنگیالیو ته به هم په افغانستان کې د جگړې د تجربې په موخه روزنه ورکول کېده. بل لور ته، د اسلام‌اباد د غوښتنو پر وړاندې، ځینو سني یاغي ډلو د پاکستان په ختیځ او سویل کې پر شیعه لړکیو بریدونه کول، خو په افغانستان کې له طالبانو سره مېشت وو. له جنرال دوستم سره د ازبکستان د حکومت د خواخوږۍ او ملاتړ پر خلاف طالبانو په ۱۹۹۹ز کال د ازبکستان اسلامي غورځنگ مشـرانو ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راشي، هغوی ته یې د افغانستان د شمال په کندوز ولایت کې د تاجکستان پولې ته نږدې اډې ورکړې.

پخواني طالب مشـران له القاعدې او بهرنیو جنگیالیو سره د طالبانو د اړیکو کیسه په څه توپیر سره بیانوي. د طالبانو د وخت ډیپلومات ملا عبدالسلام ضعیف راته وویل چې القاعدې او نورو نړیوالو جهادیانو د افغان مجاهدینو ډلو سره اړیکې لرلې. هغه وړاندې وویل چې ټولو چیچنیایي، تاجکستاني، ازبکستاني، چینایي او پاکستاني جنگیالیو د طالبانو له پیدایښت وړاندې له مجاهدینو سره په افغانستان کې اړیکې لرلې.

ضعیف وایي، کله چې په ۱۹۹٦ز کال جلال‌اباد د طالبانو لاس ته ولوېد، طالبانو د اسامه بن لادن د پناه غوښتنې وړاندیز ومانه، نوموړي همداراز زیاته کړه: ((زموږ تر ټولو لویه ستونزه دا وه چې د ملا محمدعمر په گډون هېڅوک نه پوهېدل چې د نړیوالو ستونزه له اسامه بن لادن سره څه وه. موږ د هغه په موخو او اهدافو خبر نه وو. ډېرو طالبانو فکر کاوه چې هغه د افغانستان په جهاد کې ونډه اخیستې وه، ځکه نو ستونزه نه وه چې د یوه مجاهد په توگه په افغانستان کې اوسېدلی وای. طالبان ساده خلک وو، هغوی پر نړیوال دریځ له لوبې خبر نه وو، ځکه یې د مېلمنو په توگه ومنل، کله چې یې ومنل، دا نو یوه کلتوري موضوع شوه چې هېڅوک مېلمه له خپله کوره نشي شړلای.)) **دوام لري...**

# افغان پاچا

اکسوس کتابپلورنځی

د ۱۲۹۸ لمریز کال د زمري ۲۸مه، د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخیستو د اعلان ورځ ده. د تېرې زمري میاشتې له ۲۸مې پوره ۹۹ کاله دمخه په همدې ورځ د خپلواکۍ د بېرته اخیستو اعلان نه یوازې افغانانو ته ډېر ارزښت درلود؛ بلکې د اسیا ځینو هېوادونو ته هم الهام بخښونکی و.

دا اعلان د انگرېزانو په اسیایي مستعمرو کې د ازادۍ غوښتونکو حرکتونو لپاره یوه پیلامه وه.

۹۹ کاله مخکې، امان الله خان د زمري په ۲۸مه د راولپنډۍ د سولې تړون له توشیح کېدو وروسته، په دې ورځ د هېواد ازادي ونمانځله او له افغانانو یې وغوښتل چې تر دې وروسته به دا ورځ د هېواد په تاریخ کې د ملي ورځې په توگه نمانځي.

افغان تاریخ پوه میر غلام محمد غبار په خپل اثر «افغانستان در مسیر تاریخ»کې لیکي: «د فبرورۍ په ۲۴مه، د کابل خلک او د پلازمېنې لښکر د مرادخاني میدان کې راغونډ شوي وو. امیر امان الله خان سپور په داسې حال د خلکو گڼې گوڼې ته ننوت، چې توره یې پر ډډې راځړېدله. همدلته یې مشهوره او تاریخي وینا وکړه. هغه د افغانستان بهرنۍ خپلواکي او په هېواد کې د ننه د فردي ازادۍ اعلان وکړ. د برابرۍ، د ولس د ازادۍ، عدالت تامینولو او د نوي دولت د رښتینولۍ په اړه یې خبرې وکړې. د خلکو له گڼې گوڼې د خوښیو او مبارکیو شور او زوږ راپورته شو.»

شاه امان الله د ۱۹۱۹ میلادي کال د اپریل په ۱۳مه، د کابل دربار کې په داسې حال کې وینا وکړه، چې د انگلیس سفیر هم په مراسمو کې حاضر و. ډبلیو اډک په خپل کتاب «د افغانستان سیاسي اړیکو تاریخ» کې د دې وینا یوه برخه داسې راخیستې: «ما خپل ځان او خپل مملکت له کورني او بهرني پلوه بشپړ ازاد او خپلواک اعلان کړ. تر دې وروسته زموږ هېواد، د نړۍ د ټولو دولتونو او قدرتونو په شان ازاد دی او هېڅ ځواک ته د سر د یوه وېښته هومره اجازه نه ورکول کېږي، چې د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او که چا دا کار وکړ، غاړه به یې په دې توره ووهم.»

بیا یې د انگلیس سفیر ته مخ وراړاوه او ویې پوښتل: «څه مې چې وویل پرې پوه شوې؟»

د انگلیس سفیر په احترام او تعظیم ځواب ورکړ: «هو، پوه شوم».

هغه له پلازمېنې نیولې تر ولایتونو پورې د ښوونځیو او عصري علومو د تدریس د بنسټ په ایښودو سره، د هېواد په لروبر کې د علم او پوهې څراغ بل وساته. د ښځو د زدکړې او تحصیل خوندیتوب په موخه یې دوی ته ځانگړې پام وکړ او ښځینه ښوونځي او ښځینه روغتون یې جوړ کړ.


شاه امان الله د پرمختگ په موخه په هېواد کې ځینې ټولنیز بدلونونه راوستل، چې د ملي یووالي د بنسټ ایښودل یې په سر کې وو. همدارنگه، د افغانستان اساسي قانون یا «اساسي نظامنامه» یې طرح او تصویب کړ.

دا اساسي قانون په ۱۳۰۱ لمریز کال په جلال اباد کې د ۸۷۲ کسیزې لویې جرگې په پایله کې، چې مشري یې خپله امان الله خان کوله، تصویب شو او لومړی ځل افغانستان په خپل څو زره کلن تاریخ کې د لوړو انساني حقونو پر بنسټ د اساسي قانون څښتن شو.

په عامه حقونو فصل کې د برابرۍ، اصولو، شخصي ازادۍ، د اسارت او غلامۍ لغوه کولو، د مطبوعاتو او ازادۍ او د شخصي ملکیت حق ته انعکاس ورکړل شوی و.

همدارنگه، د استوگنې مصونیت او د شتمنۍ د مصادره کولو منع کېدو، د بېگار، ربړونې او د ناقانونه مجازاتو لغوه کولو ته هم ځانگړی پام شوی و.

دا اساسي قانون په افغان ټولنه کې انقلابي و، نه یوازې د دې لپاره چې د وگړو پر مدني حقونو اعتراف وکړي او د دولت سیستم منظم او د کابینې اصلي مسوولیت مشخصوي، بلکې همداشان په دې خاطر چې د پاچا واک محدود او د قانون تابع گرځوي.




(افغان پاچا) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی، د کتاب لیکوال محمدحسین خان او پښتو ژباړه یې میراحمد یاد کړې ده. یاد کتاب د شاه امان الله خان د ژوند، سیاسي لید، له هېواد سره د بې سارې مینې او د هېواد د ابادۍ په اړه جالبې خبرې لري.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ١ | څلوېښت کاله په توپان کې | عبدالکریم خرم | ٤٧٠ؔؔف |
| ٢ | چهل سال در طوپان | عبدالکریم خرم | ٤٧٠ف |
| ٣ | ډېوېډ جونز(بغدادی پیر) ناول | نصیر احمد احمدي | ١٥٠ف |
| ٤ | نزاکت های زندگی | عبدالرحیم مهاجرکروخی | ٢٠٠ف |
| ٥ | اماني فکر | بخت مرجان بختیار | ١٧٠ف |
| ٦ | قهرمان آزادی افغانستان | حبیب الله ملک زاده | ١٠٠ف |
| ٧ | افــغان پــاچــا | محمد حسین خان | ١٨٠ف |
| ٨ | قوانین نفوذ | رابرت گرین | ١٥٠ف |
| ٩ | روابط امریکا و افغانستان | مجتبی مسیح نذیری | ١٧٠ف |
| ١٠ | له هیواده بهر افغانی رسنی | احمد شاه وحدت | ٣٦٠ف |
| ١١ | انجنیری جیولوجی | خان محمد شینواری | ٢٠٠ف |
| ١٢ | د پاکستان او چین سترتیژیکه ملگرتیا | محمد سرور احمدزی | ٧٠ف |
| ١٣ | پنځه کلن مزل(د غني د تېر ټاکنیز منشورهر اړخیز جاج) | څېړنه: سوله څېړندویه ټولنه | ٥٠٠ف |
| ١٤ | بهای پیروزی گاندی | حبیب الله ملک زاده | ١٠٠ف |
| ١٥ | The 5 second Rule | Mel Robbins | ١٧٠ف |
| ١٦ | The Power of Now | Eckhart Tolle | ٢٠٠ف |
| ١٧ | The Power Habit | charles duhigg | ٢٧٠ف |
| ١٨ | Never let me Go | kazuo Ishiguro | ٢٠٠ف |
| ١٩ | THE Four Agreements | Don miguel ruiz | ١٥٠ف |
| ٢٠ | THE 7 HABIT OF HIGHLY EFFECTIVE PEOPLE | STEOHEN R.COVEY | ٢٧٠ف |
| ٢١ | IT ends with us | Colleen hoover | ٢٧٠ف |
| ٢٢ | لومړی نړیواله جگړه | سید محمد فضل الله بخاري | ٨٠ف |
| ٢٣ | د ولسمشر قاتل(پولیسی داستان) | جنیفر بسیټ | ٥٠ف |
| ٢٤ | قتل په اورگاډي کې(جنایي ناول) | اگاتا کریسټي | ١٤٠ف |
| ٢٥ | جرمي دوسیه( داستان) | محی الدین نواب | ٥٠ف |
| ٢٦ | برادر ثروتمند خواهر ثروتمند | رابرت کیوساکی | ٢٥٠ف |
| ٢٧ | خانه‌وخانواده | سید ضیا الدین قطبی | ١٠٠ف |
| ٢٨ | غوره بریالیتوب | محمد عمر علمی | ٨٠ف |
| ٢٩ | د بریا تمځای | عایض القرونی | ١٣٠ف |
| ٣٠ | مرکب اغېز، ژوند-کاروبار-برې | ډارن هارډی | ٢٠٠ف |

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۵ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۳,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د بازارموندنې اهمیت

لیکنه: گلاب بهار / لومړۍ برخه

بازار موندنه هم د مؤلد له پلوه او هم د مستهلک دواړو له پلوه مهمه ده . دا ځکه چې د داسې یوې پوهې او سیسټم په لرلو سره کولای شو تولید شوي مواد او خدمات د اړتیا پر مهال، په ښه ډول له مؤلد څخه تر مستهلک پورې په اسانۍ سره انتقال کړو او چېرته چې نوموړیو توکو او خدماتو ته اړتیا لیدل کېږي، وړاندې یې کړو. په اوسني وخت کې د نفوسو په زیاتېدو سره او په ګڼ مېشتو سیمو کې د هغوی په راټولېدو سره د بازارموندنې اهمیت نور هم زیات شوی دی. په اوسني ژوندانه کې ښارونه د موادو زېرمه کولو پوره ځای او امکان نه لري. له بلې خوا د راز راز نویو اجناسو وړاندې کېدل د اشتهاراتو غوښتنه کوي. له بلې خوا د مستهلکینو د ذوق پېژندل او د دغه ذوق بدلون د بازار په اړه د علمي څېړنو غوښتنه کوي؛ نو د بازارموندنې علم همدا کار کوي چې اهمیت یې ورځ په ورځ زیاتېږي. د انسانانو د بوختیاوو زیاتوالی د هغوی وخت کم کړی؛ نو بازارموندنه د وخت د ضایع کېدو مخنیوی هم کوي، په کم وخت کې د ضرورت وړ اجناس مستهلک ته وړاندې کوي او په کم وخت کې د وړاندې کوونکي اجناس پلورل کېږي. د بازارموندنې پرمختیا د مؤلدینو د هڅونې لامل کېږي، چې په نتیجه کې د تولید په حجم کې زیاتوالی راځي. له بلې خوا بازارموندنه د اجناسو له تنوع سره مرسته کوي، چې دا د مستهلک د هڅونې لامل ګرځي. بازارموندنه د مؤلد له نظره ځکه اهمیت لري، چې د هغه اړیکي له مستهلک سره ټینګوي او وخت یې نه ضایع کېږي؛ خو د مستهلک له نظره ځکه مهمه ده چې د هغه د استوګنې په نږدې ځایونو کې ورته اړتیاوې چمتو کېږي. له بلې خوا د هغه اشتهارات چې د بازار موندنې په واسطه تر سره کېږي، د اجناسو او خدماتو په کیفیت کې غوره اهمیت لري، ځکه چې اشتهارات یو ډول مثبته سیالي ایجادوي او کیفیت ښه کولو ته یوه انګېزه برابروي.

د بازارموندنې فعالیتونه د استخدام د سطحې په اوچتېدو کې هم ډېر اهمیت لري، چې ځینې وزګار خلک د بازار د فعالیتونو په بېلابېلو برخو کې پر کار ګومارل کېږي. د بازارموندنې فعالیتونه موسمي تولیدات د کال په ټولو میاشتو کې مستهلکینو ته په واک کې ورکولای شي او له تولیدوونکو سره چې کوم اضافي تولیدات وي، هغه راټولوي او د زېرمه کولو په واسطه هغوی له زیان څخه ژغوري.

**د بازارموندنې موخې**

بازارموندنه یو ټاکلی، مشخص او ځانګړی هدف لري، چې هغه د خلکو د مشترکې غوښتنې او یا غوښتنو ته ځواب ویل دي. په واقعیت کې د بازارموندونکي او بازارموندنې کار دا دی، چې د پېرودنې د توان لرونکو خلکو مشترکه اړتیا دې وپېژني او له هغوی سره دې مرسته وکړي؛ څو د محصولاتو او تولیداتو دپېرودنې او مصرف په اړه پوه شي، خپلې اړتیاوې ورباندې پوره کړي او په حقیقت کې مو هغو ته ځواب ویلی وي. نو په دې ډول د بازارموندنې ښه رول د )ښکار، یا کب نیونې( په څېر دی او د ښکار او یا کب نیونې لپاره وسایلو ته اړتیا لرو. په بازارموندنه کې هم لومړنی ګام د اطلاعاتو راټولول دي، چې زه باید د ښکار او کب نیولو لپاره کوم ځای ته لاړ شم؟ ... او داسې نور. د دا ډول پوښتنو په وسیله بازارموندونکي او تر لاس لاندې کسان یې د اطلاعاتو په راټولولو لاس پورې کوي. نو هغه ده چې بازارموندونکي باید پوه شي، چې اصلي مخاطبین او هدف یې چېرته دي او د هغوی اړتیاوې څه دي؟ د دې ټولو ترمنځ له مخاطبینو سره د پېرودلو توان مهم هدف دی او له هغې نه مهمه دا ده، چې عرضه شوي توکي )محصولات او یا خدمات( په ښه ډول وپېژني. باید دې ته مو پام وي، چې د بازارموندونکي اصلي کار او رول دا دی، چې د خلکو د اړتیا او غوښتنو سره سم خپل محصولات او تولیدات وړاندې کړي او د هغوی اړتیا ورباندې پوره کړي. ځکه چې بازارموندنه یوازې تر خرڅلاو او تبلیغاتو پورې نه شي ځانګړې کېدای، خو کېدای شي ووایو چې د مبادلې او د خرڅلاو ډېرښت د بازارموندنې اصلي او اساسي هدف بلل کېږي. ځکه د بازارموندنې فلسفه او وجودي علت یې د ګټورو پېرودونکو موندل دي او موخه یې تر ډېره د ژمنو پېرودونکو پیدا کول دي. په پایله کې د بازارموندنې هدف د خرڅلاو ډېرول دي او موخه یې دا ده، چې پېرودونکي په داسې توګه درک او وپېژندل شي، چې بازار ته وړاندې شوي توکي او خدمات ورته مناسب وي او هغوی یې خپله وپلوري.

داپه دې مانا نه ده، چې ګواکې خرڅلاو او تبلیغات به ارزښت نه لري، بلکې په دې مانا ده، چې دغه دواړه یوازې د بازارموندنې د ترکیب یوه برخه ده. داسې ترکیب چې په خپله د بازارموندنې د وسایلو او اوزارو ټولګه ده، چې د بازار پر چاپېریال باندې د اغېز لپاره یو له بل سره ترکیب کېږي او ګټه ورنه پورته کېږي.

**د بازارموندنې اساسي مفاهیم**

بالاخره د بازارموندنې مفهوم موږ د کامل دوران مفهوم ته رسوي. بازارموندنه یانې له کارونو سره سروکار، په دې منظو، چې د بشر د اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو سبب وګرځي. نو اوس موږ د بازارموندنې په اړه خپل تعریف ته بېرته راګرځو.

د )بشر د فعالیتونو د عنوان په توګه چې د اړتیاوو او غوښتنو پوره کول د محصولاتو د تبادلې له لارې تر سره کېږي( د محصولاتو تبادله له کار سره نه شلېدونکې اړیکې لري. پلورونکي اړ دي چې پېرودونکي ولټوي، د هغوی اړتیاوې وپېژني او ښه او مناسب توکي ډیزاین کړي، هغو ته لاپراختیا ورکړي، انبار یې کړي، قېمت ورباندې کېږدي او بالاخره یې پېرودونکو ته ور وسپاري.

**لاندې کړنې د بازارموندنې اصلي فعالیتونه بلل کېږي:**

- محصول ته پراختیا ورکول
- څېړنه
- اړیکې
- توضیع
- قېمت اېښودنه
- خدمتونه

سره له دې چې موږ بازارموندنې ته د پلورونکي په واسطه د کسب د ادامې د عنوان په سترګه ګورو؛ خو پېرودونکي هم د بازارموندنې فعالیتونه تر سره کوي، مصرف کوونکي هغه مهال بازارموندنه کوي، چې د خپل توان وړ توکي د پېرودلو لپاره ولټوي.

د یوه شرکت نمایندګي هغه مهال بازارموندنه کوي، چې د پلورونکو په لټه پسې وي او د ښو شرایطو لپاره چنې وهي. د پلورونکو بازار داسې یو بازار دی، چې هلته پلورونکی د ډېر توان درلودونکی وي او پېرودونکي اړ دي، چې ډېر دقیق او څیرک وي. د پېرودنې په یوه بازار کې پېرودونکی د ډېر توان درلودونکی وي او پلورونکی مجبور دی، چې ډېر فعاول او هڅاند واوسي.

**دوام لري...**

# ټاکنو کمېسیون: د افغانستان ټاکنې د سیمې په پرتله تر ټولو ګران بیه دي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي وايي، په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې هر ګډونوال ته د رای ورکونې فرصت برابرول ۱۵ ډالره لګښت لري، چې د ګاونډیو هېوادونو په پرتله تر ټولو ګران بیه ټاکنې دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند میرزا محمد حقپرست ازادي راډیو ته ویلي، که د ټاکنو کمېسیون عادي بودجه او د ټاکنیزو موادو د لېږد لګښت په پام کې ونیول شي، نو د هرې رایې لګښت تر دې هم لوړېږي.

حقپرست زیاتوي: «له عادي بودجې او د انتقالاتو او د نورو اړوندو ادارو له لګښت پرته په تخمیني ډول په هرې یوې رایې ۱۵ ډالره لګښت راځي».



د تېرو ټاکنو پرخلاف دا ځل نړیوالو مرسته کوونکو د افغانستان ولسمشریزو ټاکنو لپاره لړ مالي تعهد درلود او دغه هېواد حکومت اړ شو چې په بې‌ساري ډول د ۱۴۹ میلیونو ډالرو شاوخوا ۶۰ سلنه لګښت پر غاړه واخلي. دا درونډ مالي لګښت د داسې یوه هېواد لپاره چې نیمایي بودجه‌یې له نړیوالو مرستو تامینېږي او د مالیې وزارت په خبره، سږ کال هم ۱۵۰ میلیونه ډالره د بودجې کسر لري، دا خورا لویه اقتصادي ضربه ده.

د ټاکنو کمېسیون چارواکو په خبره، بهرنیان له کمېسیون سره اعلان کړې مرستې هم تر ډېره په خپله لګوي.

بلخوا عام خلک وايي چې د افغانستان په څېر یو بېوزله هېواد لپاره دومره لوړ لګښت ملا ماتوونکی دی.

په ورته وخت کې پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وايي، پر ټاکنو لوړ لګښت په دغه هېواد کې یو دود ګرځېدلی دی.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا اجرایوي رییس یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي، ان په تېرو ټاکنو کې پر یوې رایې څه باندې ۴۴ ډالره لګښت هم راغلی دی، خو د را روانو ولسمشریزو ټاکنو لپاره دا لګښت ۱۸ ډالره اټکل شوی، چې د افغانستان په څېر هېواد ته ملا ماتوونکی دی.

# پامپیو د ناټو له سرمنشي ینس سټولټنبرګ سره د افغان سوله په اړه خبرې کړې

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په بروکسل کې د ناټو له سرمنشي ینس سټولټنبرګ سره د افغانستان په اړه خبرې کړې دي.

فرانس پرېس خبري اژانس د ناټو د یوه چارواکي په حواله چې نوم یې نه دی ښودلی، ویلي چې د پامپیو او سټولټنبرګ خبرې د امنیتي مسایلو ترڅنګ، د افغانستان د سولې پر بهیر او په دغه هېواد کې د ناټو پر ماموریت راڅرخېدلې.

پامپیو داسې مهال بروکسل ته سفر کوي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د توافق مسوده وړمه ورځ د افغانستان حکومتي مشرانو ته وښودله.




تر شاوخوا لسو میاشتو خبرو او نهه پړاوه مذاکراتو وروسته چې د اګست په ۳۱مه پای ته ورسېدل، ښاغلي خلیلزاد ویلي چې له طالبانو سره په اصولو کې یوه هوکړه شوې چې څلور مهم مسایل پکې شامل دي.

له افغانستانه نورو هېوادونو ته د خطر د نه متوجې کېدو په اړه د طالبانو تضمین، په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د شمېر کمېدل، د بین‌الافغاني خبرو پیل او په افغانستان کې د اوربند مسئله د دې هوکړې مهم ټکي دي.

په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي له ازادي راډیو سره په ځانګړې مرکه کې ویلي چې له ولسمشر اشرف غني، اجرایه رییس عبدالله عبدالله او ځینو نورو سیاسي مشرانو سره یې لیدلي او له طالبانو سره د هوکړې د مسودې جزیات یې ورسره شریک کړي دي.

هغه ویلي چې لاهم له دغو حکومتي مشرانو سره خبرو ته دوام ورکوي او هڅه یې دا ده چې د دې مسودې په اړه د هغوی موافقه واخلي، خو خلیلزاد ویلي، دا مسوده به د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ تر لاسلیک وروسته نهایي شي.

په ورته وخت کې د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي د دوشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې مسوده په دقیق ډول مطالعه او ارزول کېږي او وروسته به یې په اړه د کابل دریځ اعلان شي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ځلورمه | ٤۲٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳٥ | ۳٤ | ۳٤ | ۳۸ | ۲۹ |
| ١٦ | ١٥ | ١٧ | ۲۲ | ۲۸ | ١۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۰۲ | لمر ختل ۰٥:۲۷ | ماسپښين 11:54 | مازدیګر ۰۳:۳۰ | ماښام ۰٦:۱۸ | ماخوستن ۰۷:٤٥

## نړۍ




## د بریتانیا له لوري نیول شوې ایراني بېړۍ د لبنان سواحلو ته رسېدلې ده



هغه ایرانۍ تېل وړونکې بېړۍ چې څه موده وړاندې د بریټانیا له لوري په جبل‌الطارق کې نیول شوې وه او د امریکا په بندیزونو کې هم شامله وه، د لبنان سواحلو ته رسېدلې ده.

دغه بېړۍ چې د ایران سپاه پاسداران اړوند ده، ویل کېږي چې د سوریې ولسمشر بشارالاسد رژیم ته په غیر قانوني ډول تېل لېږدوي.

دغه ایرانۍ تېل وړونکې بېړۍ چې څو اونۍ وړاندې په جبل‌الطارق کې د بریټانیا د سمندري ځواکونو لخوا درول شوې وه، د اګسټ په ۱۸مه وروسته له هغه خوشې شوه او د مدیترانې سمندرګي پر لور لاړه، چې سوریې ته د نه تلو تضمین ترې واخیستل شو.

دغې بېړۍ په تېرو څو اونیو کې څو ځلې خپل مسیر بدل کړی دی.

په ورته وخت کې د نړیوال سمندري ترافیک څارونکي وايي، د «دریان دریا ۱» بېړۍ چې وړاندې یې نوم «ګریس۱» و، د سوریې له سواحلو اوښتې او په تېرو دریو ورځو کې د لبنان طرابلس ساحلي ښار په ۸۵ کیلومترۍ کې په نړیوالو اوبو کې ولاړه ده.

دغه مرکز ویلي چې له یکشنبې راهیسې «ادریان دریا ۱» له سوریې څخه د نړیوالو اوبو پر لور تللې، هغه ځای چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي وو چې ښایي دا ټانکر هلته خپل تېل تخلیه کړي.

ویل کېږي چې په دې تېل وړونکې بېړۍ کې د ۱۳۰ میلیونو ډالرو په ارزښت اومه تېل بار دي.

بلخوا د امریکا د خزانې وزارت ویلي، دا بېړۍ یې په تور لېست کې ده او هر هېواد چې په خپلو بندرونو کې ورته د لنګر اجازه ورکړي او یا همکاري ورسره وکړي، د امریکا له بندیزونو سره به مخامخ شي.

## عمران خان: د هند او پاکستان ترمنځ احتمالي جګړه به ټوله نړۍ وګواښي



په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د کشمیر پر سر د هند او پاکستان اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي چې هېواد به یې د هند پر وړاندې جګړه پیل نه کړي.

نوموړي ویلي چې هند او پاکستان دواړه اټومي هېوادونه دي او د دوی ترمنځ احتمالي شخړه به ټوله نړۍ وګواښي.

عمران خان زیاته کړې: «په دې برخه کې به هېڅکله لومړی اقدام زموږ له خوا نه وي».

هغه دغه راز ویلي، هند او پاکستان باید د جګړې پر ځای، د ګډو ننګونو، لکه: بېوزلۍ، بې کارۍ او د اقلیمي ګواښونو په اړه خبرې وکړي.

د عمران خان دا څرګندونې داسې مهال دي چې له دې مخکې هند ویلي وو، چې لومړی د اټومي بم د نه استفاده کولو سیاست ته ژمن دی؛ خو ښايي چې دا سیاست په راتلونکي کې بدلون وکړي.

د پاکستان او هند ترمنځ اړیکې وروسته تر هغې یوځل بیا ترینګلې شوې، چې د هند پارلمان په یوه نوي اقدام کې د کشمیر کورواکي لغوه کړه او تر خپل کنټرول لاندې کشمیر ته یې په زرګونو سرتېري ولېږل.

په ورته وخت کې پاکستان چې د هند لخوا د کمشیر نیمه خودمختارۍ له لغوه کېدو سره مخالف دی، د دغه هېواد پر وړاندې خپلو اعتراضونو ته دوام ورکړی دی.

## ۴۴ مورد تداركاتی به ارزش نزدیک به ۱۰ میلیارد افغانی منظور شده است



کمیسیون تدارکات ملی، ۴۶ مورد تدارکاتی را مورد بررسی قرار داد و در نتیجه، ۴۴ مورد آن به ارزش نزدیک به ۱۰ میلیارد افغانی، منظور گردید.

در خبرنامه مطبوعاتی ارگ ریاست جمهوری، که به رسانه ها رسیده، آمده است که جلسۀ کمیسیون تدارکات ملی به ریاست رئیس جمهور محمد اشرف غنی، در ارگ برگزار گردید.

در این جلسه، ۴۶ مورد تدارکاتی مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در نتیجه، ۴۴ مورد آن به ارزش نزدیک به ۱۰ میلیارد افغانی از سوی این کمیسیون منظور گردید.

در همین حال، درخواست اعطای قرارداد طبع و چاپ دو قلم قرطاسیه مطبوع محرم، ضرورت ریاست املاک وزارت معارف، مشروط بر عقد این قرارداد در حدود قیمت تخمینی، با تصدی مطبعه معارف منظور شد.

همچنان درخواست منظوری قرارداد ساختمان پل سرای شمالی مربوط شاروالی کابل، به منظور بررسی های بیشتر دیزاین، قیمت و ظرفیت و توانایی داوطلب پیشنهادی، از سوی کمیسیون تدارکات ملی اعاده گردید.

از سویی هم در این جلسه، درخواست منظوری تعدیل شماری از پروژه ها پس از بررسی و مداقه مورد تائید کمیسیون تدارکات ملی قرار گرفت.


در ادامه خبرنامه آمده است که وزارت شهرسازی و اراضی، درخواست هدایت پیرامون اعطای قرارداد پروژۀ اعمار ۱۴۰۰ باب آپارتمان در فاز اول واقع دارالامان کابل را از کمیسیون تدارکات ملی نمود که پس از بحث و بررسی به داوطلبی که نرخ نازل ارایه کرده بود، منظور شد.

علاوه بر آن، وزارت شهرسازی و اراضی، درخواست هدایت پیرامون پروژۀ دیزاین تعمیر موزیم ملی افغان را نمود، که از سوی کمیسیون منظور گردید.

وزارت دفاع ملی، درخواست منظوری تصحیح مقدار گوشت مرغ قول اردوی ۲۰۷ ظفر را ارایه نمود، که مورد تائید کمیسیون قرار گرفت.

## ژوند


## شکر څه ډول ناروغي ده؟



ډیابېټ یا شکر چې موږ ورته په عامیانه ډول د شکرې ناروغي هم وایو، یوه مضمنه ناروغي ده چې نن سبا پرې ډېر خلک اخته دي او هر کال د میلیونونو کسانو ژوند اخلي. دغه ناروغي په وینه کې د قندو د کچې د لوړوالي له کبله پیدا کېږي او د ځیګر د تحولاتو او تخریب لامل کېږي. په دې وروستیو کې په افغانستان کې هم دا ناروغي په خورا لوړه کچه زیاته شوې ده. که څه هم چې د هېواد په روغتونونو کې د دې ناروغۍ د درملنې لپاره کافي او متخصص ډاکټران شته، خو بیا هم ډېری خلک په خپل هېواد کې د دې ناروغۍ د درملنې لپاره زړه نه ښه کوي او بهرنیو هېوادونو ته ځي. دغه ناروغي بېلابېلې بڼې لري، چې ځینې یې په ورځنې ډول د درمل کارولو پر مټ کنټرولېږي. خو هغه کسان چې د دې ناروغۍ پرمختللې بڼه لري، هغوی بیا د ستنو له لارې انسولین اخلي او خپل ورځنی ژوند مخ ته بیایي.

کله چې موږ غذايي مواد خورو، دا غذايي مواد د هاضمې سیستم په وسیله هضمېږي او د تېزابو(انزایم) په وسیله په بدن کې پر خوږو موادو (ګلوکوز) باندې بدلېږي. دا خواږه مواد د وینې د جریان په وسیله د بدن ټولو برخو ته د اړتیا په اندازه رسېږي.

## لومړی له کوچنۍ موخې پیل وکړئ



کېدای شي د ډېرو بریالیو کسانو د ژوند کیسه درته چندان الهام بښونکې نه وي او فکر وکړئ چې بریا تر ډېره د چانس خبره ده او هغه کسان چې بریالي دي، یوازې چانس یې ورسره مرسته کړې ده. په اصل کې هغوی د غرونو په شان ستونزې شاته پرېښې دي او توانېدلي چې بریا په غېږ کې ونیسي. تاسو هم کولی شی. لومړی یې له کوچنۍ موخې پیل کړئ، لومړی د ځان لپاره داسې موخې وټاکئ چې پر ځان پوره باور لری، چې کولای شی ورته رسېږی، څو په دې کار سره پر خپل ځان له لاسه ورکړی اعتماد او باور یو ځل بیا لاسته راوړی.

هو، همدا چاره درسره مرسته کولای شي چې پر خپل ځان او نفس باندې باور پیدا کړی. هر ځل چې دغو وړو مخو ته رسېږی، پر ځان مو باور زیاتېږي او له دې څخه د یوې څه ناڅه لویې موخې تکل کوی. په همدې ډول وړو کوښښونو سره کولای شی خپل بالقوه استعدادونه پر بالفعل تبدیل کړی او په پایله کې تر بریا غېږه چاپېره کړی.

په کلک هوډ درلودلو سره کولی شی موخې ته د رسېدو لپاره هغه کړې وړې لارې، د غرونو په شان لویې ستونزې تر شا پرېږدی او د توپانونو پر وړاندې خپل متین عزم له لاسه ورنه کړی.